ورځپاڼه
شریعت
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان

شپږم کال ۵۵مه ګڼه پرله پسی (۴۳۴) یکشنبه د۱۴۲۲هـ ق جمادی الاول (۸)
د۱۳۸۰ هـ ش کال اسد (۷) د ۲۰۰۱ میلادی کال دجولای (۲۹)

الهی فرمان

ترجمه : ای هغو کسانوچی ایمان یې راوړی که یو فاسق څه خبردرته راوړی نو پلټنه کوئ هسی نه چی کوم قوم ته په ناپوهی سره څه تکلیف ورسوئ او بیا په خپلو کړو پښیمانه شئ (الحجرات - ۶)

د ناصرباغ کمپ استازو دختیځ زون مرستیال ته خپل مشکلات څرګند کړل

ننګرهار :

دختیځ زون تنظمیه ریاست مرستیال پرون له غرمی مخکی دجلال اباد په ښارکی دناصر باغ کمپ کی دمیشتو مهاجرینو له یو شمیر استازو سره وکتل. دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ ددغی کتنی په بهیرکی څوتنو سپین ږیرو په دی ترڅ کی چی دافغانستان له اسلامی امارت سره خپله هر راز همکاری څرګنده کړه ددغو مهاجرینو مشکلات یې بیان کړل.

وروسته دختیځ زون دتنظمیه ریاست مرستیال محترم مولوی صدراعظم دافغانستان داسلامی امارت دلوړو هدفونو او تولګټو پروګرامونو دبیانولو په ترڅ کی څرګنده کړه چی اسلامی امارت مهاجرینو او مجاهدینو ته دقدریه سترګه ګوری او دهغو دستونزو اومشکلاتو دلری کولو په لاره کی له هیڅ راز هڅو او هاند څخه ډډه نه کوی.

مولوی عبدالواحد شفیق رئیس مبارزه علیه مواد مخدر در زون غرب در مصاحبه با خبرنګار شریعت :

دستور منع کشت کوکنار اصلیست از اصول ا.ا در افغانستان

هرات - شریعت :

دستور منع کشت کوکنار از جانب امارت اسلامی افغانستان هیچگونه معیاد و شروط با خود نداشته و جز اصول و قوانین نافذه امارت اسلامی درکشور شمرده میشود.

این مطلب را محترم مولوی عبدالواحد « شفیق » رئیس مبارزه علیه مواد مخدر زون شمال غرب طی مصاحبه به خبرنګار ما در شهر هرات اظهار داشته افزود : ص ۲

داستفادی وړ وګرځیدی
دجوزجان دتیلو دری څاګانی

دلومړی مرحلی کشته یې (۲۵۷) ملیونه ډالره لګښت شوی ده

دغه څاګانی دلس نیم ملیونه ټنه تیلو ظرفیت لری

جوزجان :

دجوزجان ولایت دمرکز شبرغان ښار دزمردساد سیمی دتیلو لومړی دویم او دریم لمبر څاګانی بیا ترمیم او داستفادی وړوګرځیدی. دشبرغان له ښار څخه دباختر اطلاعاتی آژانس خبریال خبر راکړ دشمال دتیلو او ګاز دپلټنی دپروژی دانجنیرانو او فنی کارګرانو دهڅو او هاند له امله دشبرغان ښار دزمردساد سیمی ... ٤ مخ

پکتیا کی

دوه ټنه غله ونیول شول

پکتیا :

دوه ټنه د پکتیا ولایت په مربوطو توکی ونیول شول ... دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د پکتیا ولایت دارمې ولسوالی امنیتی مرجعو دوه ټنه غله چی څه موده مخکی یې ددغی ولسوالی ... ٤مخ

درهرات بامهاجرین مساعدت صورت گرفت

هرات :

برای شش هزار وپنجصد وهشتاد وشش فامیل مهاجر مستقر در کمپ های ولایت هرات مساعدت صورت گرفت.

آژانس اطلاعاتی باختر خبرداد : مساعدت متذکره شامل یکصدوهشتاد وهشت تن آرد ... ص ٤

دریاست الوزراء اداری مرستیال دجنوب لویدیځ زون له حالاتو خبر کړی شو

کابل :

دریاست الوزراء اداری مرستیال محترم ملا محمد حسن اخند پرون له غرمی مخکی دجنوب لویدیځ زون ارونده ولایاتو ته دافغانستان داسلامی امارت دلیل شوی هیات درئیس دکارریوټ دیوی غونډی په ترڅ کی واورید. دریاست الوزراء ... ٤مخ

عنقریب سلسله رفت وبرگشت کاروان های زمینی قادری ترانسپورت جانب تهران، بغداد آغاز میگردد

عکاسی یوسف

عکس : وسایط ترانسپورت قادری

کابل - شریعت :

بزودی یك کاروان زمینی ۵۰۰ نفری افغانها توسط شرکت خدمات مسافرتی بین المللی قادری از کابل جانب بغداد درحرکت میشود.

خبرنگارما درزمینه چنین گزارش میدهد :

اخیراً شرکت خدمات مسافرتی بین المللی قادری ترانسپورت به همکاری ریاست ګرځندوی وزارت هوانو ردی ملکی برای نخستین بار درکشور سفر یك کاروان زمینی حلقوی را که در برګیرنده ص٤

دبر ښښنا تصدی رئیس :

دکابل بریښنا ریاست تیر کال څه دپاسه (۱۸۵) ملیارده افغانی ګټلی دی

کابل :

دبریښنا موسسی تصدی دتیر کال په بهیر کی دبریښنا داوبو او بریښنا وزارت دبریښنا دتصدی رئیس محترم ... دمحصول له درکه څه دپاسه یو سلو اته پنځوس ملیارده افغانی عواید ترلاسه کړیدی. ٤ مخ

دارزګان په ښینمنو خلکو مرستی وویشل شوی

ارزګان :

دارزګان ولایت په اتو سوو چکالی ځپلو کورنیو باندی په اندازه خوراکی مواد وویشل شویدی دغه مواد چی پوروړو پنځه سوو پوری او ړه پنځه ... ٤مخ

چه کسی مؤظف حمایت از حقوق ادارات امارتی میباشد ؟

هرات - شریعت :

محترم ملا رحم الله « امین » رئیس قضایای امارتی ولایت هرات ، در پاسخ به این سوال خبرنگار ما که ریاست قضایای امارتی مصروف چه وظایف بوده و روی چه اهدافی خدمت مینماید ، گفت :

ریاست قضایای امارتی در ولایت هرات بعنوان یك واحد ص ۲

شورای مشورتی حفظ محیط زیست ایجاد گردید

کابل - شریعت :

شورای مشورتی حفظ محیط زیست درساحه نخاس سابقه مربوط ناحیه اول ایجاد گردید.

شورای مشورتی حفظ محیط زیست بخاطر پاکی و صفایی گذر نخاس سابقه مربوط ناحیه دوم ایجاد که در این شورا ملا امام مسجد به صفت رئیس وچندین تن از موسفیدان به صفت اعضای شورا انتخاب گردیده اند.

این شورا وظیفه دارد درخصه ص٤

درساحات تسلط مخالفین مقدار زیاد کوکنار زرع گردیده است

از زمانیکه امارت اسلامی در کشت کوکنار قیود وضع نموده قاچاقبران متوجه پنجشیر و بدخشان شده اند

در جمع آوری حاصلات قاچاقبران خارجی نیز سهم خواهند گرفت

طبق گزارش خبر رسانی ان لاین در ساحه تحت تسلط مخالفین امارت اسلامی مقدار زیاد کوکنار کشت گردیده است.

خبر می افزاید از زمانیکه امارت اسلامی درکشت کوکنار قیود را وضع نموده است قاچاقبران هیروئین و کوکنار علاقمند مناسبات تجارتی با مخالفین امارت اسلامی گردیده اند.

طبق اطلاعات نشر شده در پنجشیر ، تخار ، بدخشان و دره صوف مقدار زیاد کوکنار کشت گردیده که در این روز های موسم جمع آوری حاصلات آن است.

گفته میشود که درجمع آوری حاصلات کوکنار قاچاقبران خارجی نیز سهم خواهند گرفت.

تیم فوتبال اتحاد باز هم برنده شد

کابل - شریعت :

به سلسله مسابقات تورنمنت بهاری فوتبال دیروز مسابقه میان تیم فوتبال اتحاد وشیوا برگذار گردید. ص ٤

تربې دعا ۳مخ

وطنه ۳ مخ

پرویز مشرف واجپای ته رسمی بلنه ورکړه

اسلام آباد :

دپاکستان داسلامی جمهوریت جمهوررئیس او دوغه هیواد داجرائیوی شورا رئیس جنرال پرویز مشرف په رسمی ډول د هند صدراعظم اتل بیهاری واجپای ته ... کړی ده چی دپاکستان اسلامی جمهوریت ته سفر وکړی.

٤ مخ

سید جنایی :

که ګیر شوی نه وای یو نیم سل ښځی می نوری هم وژلی

تهران کی خبری سرچینی - شریعت :

په ایران کی عدلی چارواکی وایی چی په شمال ختیځ ښار مشهد کی د بیخوده بوشمیر ... نیول شوی کس په لسو وژنو کی په عام محضر کی ... چارواکی وایی ... دغه کس

٤ مخ

... سواحل فرانسه

منابع بین المللی خبری - شریعت :

یکهزار وهشتصد کیلوگرام ... درسواحل فرانسه کشف ... مقامات وزارت داخله فرانسه ارزش محموله معادل یکصد ملیارد ... است تحقیق درزمینه دستګیری عاملین این قاچاق جریان دارد.

د کندهار ولایت د فوټبال ټیم د کابل په ملی ورزشی ستدیوم کی

ورزش کاران باید د سپورتی اصولو ... رعایت وکړی

ډاکتر محمد ناصر

کابل - شریعت :

د سپورت درنو مینه والو ! زموږ خبریال د خپلو ریپوټونو او مرکو د برابرولو په ترڅ کی داخل د کندهار ولایت د فوټبال د ټیم له ترینر محترم ډاکتر محمد ناصر سره د دوی د اړوند ټیم د سپورتی فعالیتونو په باب لنډه مرکه کړی چې دادی ستاسی دمطالعی لپاره یې خپروو : ۲مخ



عکس : د کندهار ولایت دشهیدانو څوک

سرمقاله

دلوی او ښونکی خدای «ج» په نامه

ربانی صیب له خپلی ځیری په خپله پرده پورته کړه

د مخالفینو یو سپین ږیری مشر استاد ربانی ورمه ورځ د روسیی تلویزیون له خبریال سره د مرکی په وخت روسان د ځان لپاره تر ټولو غوره دوستان بللی او د نظامی ، اقتصادی او سیاسی مرستو لاژیاتولو هیله یې تری څرګنده کړی ده. ده ویل که اوس روسیه او د منځنی آسیا نور هیوادونه مناسب کومک ورنکړی نو بیا یې سبا به څو چنده زیات قیمت ادا کړی.

موږ نه پوهیږو «ربانی» به په کومه نیښه مست وُ چې داسی بې څوکاته الفاظ یې له خولې را وتلی او که بیا هم د بدخشان د مجاهدو ۲ مخ

شریعت
دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفي»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوې گڼې بيه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
تیلـیفـون : ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات :۶۲۸۵۹
پست بکس : (٤۷۱) کابل افغانستان
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

خلکو له لاسه چې د روسی ټانکونو په زور بې را ایسار کړی . له کوم سخت خطر سره مخامخ شوی او داسې وارخطا ناري وهی خو په هر صورت په افغانستان د روسانو له ظالمانه یرغل او دوه ملیونو شهیدانو وروسته هیڅ افغان هم دا نه شی زغملای چې لاهم روسان خپل دوستان وگڼی نو په داسې حال کې چې افغان مجاهد ولس له روسانو دجگړې تاوان او دخپلو شهیدو بچیانو پور او کسات اخیستل غواړی ، او تر اوسه د روسانو او افغانانو ترمنځ هیڅ کومه روغه او حسابی هم نه ده شوی . د ربانی دا راز کړه وړه او څرگندونی به د هیواد په راتلونکی تاریخ کې دومره ستر ملی خیانت وبلل شی چې هیڅوک به سم او موزون تعبیر نه شی ورته موندلای . په دی کې شک نشته چې اساساً مخالفین اوس بالکل د روسانو یوه نوکره ډله گرځیدلي او له اسلام ، هیواد او مجاهد ملت سره یې دومره جفا کړی چې د خلقیانو او پرچمیانو یاد یې را تازه او هیڅکله د بخښل کیدو نه ده .

آیا د افغانستان مجاهد ملت او د دوه ملیونو شهیدانو وارثان به په دی لوی او تاریخی خیانت سترگې پټې کړی . آیا پر دې ښاغلی استاد راتول ملگری به هم دغه خبری بدرگه کوی او دوی به هم په خواری زاری د مسکو دوستی غواړی . او که یوه ورځ به داسې هم وی چې د دې هر یوې خبرې پوښتنه به ترې وکړی .

موږ یقین لرو چې که یوکس د اقتدار په هوس دومره بی خوده وی چې دځوارلس کلن جهاد ټولې قربانی او ارمانونه په اوبو لاهو کوی او بیر ته هماغه د کارمل دندې سرته رسوی نو ټول ملت خو به دومره بی هوش نه وی ، لږ ترلږه خو به دومره پوهیږی چې اوس له روسانو سره زموږ دوستی یو لوی شرم او له خپلو شهیدانو سره لویه جفا ده . آیا لاهم د ربانی ملگری ځان ته څه قناعت ورکولای شی او په دغو سیاسی معاملاتو کې ځان شریک بولی . آیا همدغه د یو مسلمان لپاره د ایمانی ازمیښت ډگر نه دی ؟ موږ په داسې حال کې چې خپل غازی او تورزن ولس ته له روسانو د خپلو شهیدانو او کونډو یوړو کسات اخیستلو پورې د جهاد او مبارزی وعده ورکوو ، هیله کوو د باغیانو تر واکمنی لاندې سیمو مسلمان او مجاهد وگړی هم نور له ټولو مادی گټو تیر او دلوی خدای «ج» د رضا او دهیواد دبشپړې خپلواکی لپاره روسی گوډاگیانو ته وروستی گوزار او دخپلو ارمانجنو شهیدانو ارواگانې خوشاله او شملی اوچتې کړی

په اندونیزیا کی دقدرت ستونزه

دتیروشپږو میاشتو راپدیخوا داندونیزیا دجمهوری ریاست ستونزه د دغه هیواد سیاسی ثبات له گواښ سره مخامخ کړی و، چې دادی په پای کی ددی هیواد جمهور رئیس عبدالرحمن وحید چې یو روحانی شخصیت او په خپل پلرنی ټاټوبی «جوا» په ایالت کی له خاص محبوبیت نه برخمن هم دی ، لیری کړای شواو دهغه پر ځای میرمن میگاواتی سوکارنوپو تری چې دده مرستیال او داندونیزیا د ـــ لومړنی جمهور رئیس سوکارنو لورده پدی مقام مقرره شوه

عبدالرحمن وحید دخپلو پلویانو په مرسته ډیره هڅه وکړه چې دچارو واگی په خپل لاس کی وساتی . آن تردی چې وی غوښتل په هیواد کی اضطراری حالت اعلان او ددی هیواد پارلمان رنگ کړی ، خوددی هیواد ستری محکمی او پوځ ددی اقدام مخنیوی وکړ ،عبدالرحمن وحید دخپل قدرت ساتنی په خاطر تر لیری کیدو پورې وراندی د پارلمان ددی غوښتنی په وراندی هم مقاومت وکړچی دخپل شل میاشتنی قدرت په هکله

داندونیزیا پارلمان ته ریوټ ورکړی او دپارلمان . دانحلال او اضطراری حالت فرمان ئی هم صادر کړ ، خو دده دغوښتنی پرخلاف ددی هیواد پارلمان دآراؤ په اتفاق سره هغه له خپلی دندی گوښه کړ ،سره لدی چې په لومړی سرکی هغه پارلمان دغه غوښتنه ونه منله او تهدیدئی وکړچی دخپلو مخالفانو په وراندی به دجهاد اعلان وکړی خو ،پدی کارکی عبدالرحمن وحید یوازی دی ، ځکه ددی هیواد پوځ دپارلمان ساتنه کوی او داندونیزیا ټولو گو

پوهنمل نصر الله «ستانکزی»

ندونو دوحید دغه اقدام غندلی دی مگر له بلی خوا دعبدالرحمن وحید محدوده ډله طرفداران دجمهوری ریاست له مانی سره ټول شوی او دښاغلی وحید ملاتړ یی اعلان کړیدی. خو هغه څه چې په زړه پوری دی دادی چې دامریکا دمتحده ایالاتو دبهرنیو چارو وزیر کولن پاول دعبدالرحمن وحید دغه اقدام غندلی او دسیاسی

گوندونو له مشرانو غواړی چې له زغم نه کار واخلی او لا داچې وحید امریکی ته د تداوی لپاره ځی او د دموکراسی غوښتونکی دی خو دآسیا دجنوب شرقی برخی دهیواد واتحادیه چی اندونیزیا ئی هم غړیتوب لری ، د اندونیزیا ستونزه یو داخلی پرابلم گڼی او گاونډی ملکونه یی هم داوضاعو په څارنه کی دی. واقعاً که دغه حالت په اندونیزیا کی دوام ومومی ، ددی هیواد سلامتیاته یو ستر خطر گڼل کیدای شی .

د دری کلنی وچکالی تنده په خونړیو سیلابونو ماته شوه

ننگرهار -شریعت:

څوورځی مخکې دننگرهار ولایت دپچیراگام ولسوالی خواته ولاړم ډیره زیاته وچکالی وه بوباغ ته می سربښکاره کړ گورم چې څلور دمیو وچې ونې په نظر را غلې ما وپوښتل !

داولی باغوان په ځواب کی راته وویل له ډیری مودی راهیسی پدی لښتی کی او په ندی راغلی دونو او بوټو او به خوړېږده چې دڅارویو دڅښاک او به هم نه پیدا کیدی خلکو به له لیری لیری ځایو اوبه راوړی ، ځاگانی وچی او یا یې اوبه ډیری کمی شوی . !

په همدی ورځوکی په غرونو وریځی گرځیدی خلک پدی تمه وه چې باران وشی آبادی راشی ، باران وشو خوړځبې سیلاب راغی خلک دلرگیو دنیولو لپاره خوړ ته لاړل یو څه لرگی یې ونیول او ځای پرځای

بی پرښیود د په یوه بجه بل سیلاب راغی او هغه لرگی یې له ځان سره په مخه کړل دری بجی بل سیلاب راغی چی ژوند ی انسان او څاروی یی له ځان سره په مخه کړل .

ما له یو تن سپین ږیری چی ځان یی ملک نښتر معرفی کاوه ، پوښتنه وکړه هغه داسې راته وویل:له سلیمانخیلو یې ۱۳ تنه او له آگامه څلور تنه سړی ، گڼ شمیر څاروی ، دری کاماز لاری ، په سل گونو جریبه زراعتی ځمکه او پاخه بندونه وړی دی ملک نښتر وایی چې له تېر نه ۲۱ کاله مخکې هم داسې یو سیلاب راغلی ؤ چې د ۳۵ تنو په شاوخوا کې انسانان اوگڼ شمیر څاروی او زراعتی ځمکې یې وړې وې خو دا سیلاب د هغه سیلاب تقریباً دری چنده زیات ؤ .

یو بل تن چې ځان یې غلام حیدر د چپرهار او سیدونکی راته معرفی کړ وویل له چپرهار ته یې دری کسان چې یو کس یې ښارس خان نومیده وړی دی او نور ډیر څاروی او زراعتی ځمکې یې خرابی کړې .

حمید الله «عالمی»

عکس :دننگرهار ولایت یوه برخـــه چي دوچکالي له امله زیاته زیانمنه شـــویده

دستور منع کشت کوکنار...

این فرمان در شرایط کنونی حقیقتاً بزرگترین خدمت بشری در سطح جامعه بین المللی بود که باید دهقان افغانی در مقابل این استقامت با جوایز بین المللی پاداش و استقبال میشد ؛ اما باتأسف باید گفت که بی تفاوتی کلی جهانیان در قبال این امر نه تنها اینکه تخطی آشکار وجفا عظیم درحق بشر تلقی میگردد ؛ بلکه تطبیق عملی این دستورهیچگاهی بدون کمك وهمکاری مستقیم کشور های کمك کننده در افغانستان میسرنیست ، وی درجواب به پرسشی گفت :

یگانه هدف از صدورفرمان منع کشت کوکنار درافغانستان نجات و وقایه همگانی بشر بخصوص نسل جوان ومسلمان افغان از این مکروب ناعلاج در سطح کره خاکی بود ، مگراینکه کشور های مغرض ومنفعت جو به غم خویش یگانه د لیل منع کشت این پدیده را در افغانستان بالاگیری ارزش و بازار یابی خوب کوکناردر منطقه موجودیت وضع خشکسالی درکشور قلمداد میکنند این همه جرورغ محض و افکار میان تهی بیش نیست. شفیق در برابر پرسش دیگر نگار ما افزود این امکان میرود که شاید در نزد شماری از دهقانان در افغانستان مقدار کوکنار از سالهای پیشین باقی ما نده باشد و شاید هم آنان از مدرك فروش

آن به شکل قاچاق امروز سود بیشتر ببرنداماما قاطعیت میتوان باید گفت که این مقدارآنقدر قابل ملاحظه نیست که بتواند تا اخیر امسال در افغانستان بازار داشته باشد موصوف علاوه داشت : این نکته را باید صریحاً وضاحت داد که جهانیان درآینده نه چندان دورشاهد خواهند بودآن چنانیکه امروز در مزارع افغانستان جای کشت برای یك بته کوکنار وجود ندارد فردا در اذهان دهقانان این ملك نیزازکوکنار به جزنام آن چیزی بیش باقی نخواهد ماند و آنگاه جامعه بین المللی به این امر متق

خواهد شد که فرمان منع کشت کوکنار در افغانستان متکی به خشکسالی وبازار یابی خوب آن درمنطقه نبوده ؛ بلکه اصلیست از اصول [illegible] که جهان بشریت باید به حقیقت آن اعتراف و به ثبات آن احترام قایل شود .

محترم شفیق به آخرین پرسش خبرنگار ما چنین جواب داد :

امروز دهقانان صفحات حوزه شمال غرب کشور که شامل ولایات هرات ، فراه ، غور ، فار ، بادغیس و نیمروز میگر . همه به این فرمان صادقانه لبیک گفته و در تمامی مزارع این ولایات بته ، از خشخاش دیده نمیشود .

مهربان

دکندهار ولایت دفوټبال تیم . . .

په پیل کی محترم ډاکتر محمد ناصر دکندهار ولایت دفوټبال دټیم دفعالیتونو د سابقی په باب داسی څرگندونی وکړی :

دکندهار ولایت دفوټبال ټیم چی له ۱۲ کلونو راهیسی په دغه ولایت کی ورزشی فعالیت لری اوس دشاهین دفوټبال ټیم ترنامه لاندی په منظمه او آزادانه توگه خپلوسپورتی تمریناتوته ادامه ورکوی .

دکندهار دشاهین دفوټبال ټیم په دی وروستیو وختونوکی ددغه ولایت دالمپیک ریاست له لوری دیو لړ دوستانه لوبو او سیالیو دترسره کولو په خاطر کابل ته سفر وکړاو په دی ترڅ کی یی دااتحاد ، کابل کلپ اوسباوون دفوټبال له ټیمونو سره په زړه پوری لوبی ترسره کړی.

دغه لوبی چی په بشپړه دوستانه او صمیمانه فضاکی دکابل ښار دزرگونو ورزش دوستانو دسترگو په وړاندی وشوی ډیری ښی او دقناعت وړ پایلې یی لرلی. زموږ لومړی لوبه دااتحاد

له ټیم سره وشوه او یو دیوه په وړاندی برابره پای ته ورسیده ، دوهمه لوبه له کابل کلپ سره ترسره شوه او یو دصفر په مقابل کی دکندهار دفوټبال دټیم په گټه پای ته ورسیده دغه راز زموږ دریمه او وروستی لوبه دسباوون له ټیم سره وشوه او دصفریه وړاندی دیوه گول په وهلو سره مو هغوی ته ماته ورکړه .

محترم ډاکتر ناصر ددی پوښتنی په ځواب کی چی دهیواد درسمی خبری منابعو دخبرله مخی دکندهار ولایت دفوټبال ټیم کابل ته دخپل سفر او دلوبو په بهیر کی له سپورتی اصولو او موازینو څخه سرغړونه کړی او هغه یی په پام کی نه دی نیولی ، داسی وویل .

په یوه شرعی او اسلامی نظام کی هرورزشکار ته لازم ده چی باید دسپورتی اصولو پوره رعایت او پابندی وکړی او سپورتی اخلاق مراعات کړی که چیری خدای مه کړه یو

ورزش کار سپورتی اخلاق مراعات نه کړی نو هیڅکله به دلوبو ډگر ته لاړه و نه مو می اونه دیوه لو بغاړی لقب ترلاسه کړی کله کله په ورزشی ډگرونوکی دسیالو ټیمو نو ترمنځ ځینی نزاکتونه پیداکیږی خو داکټ مټ داسی وی کله په یوه کورکی چی دوه ورونه سره خپه شی او څوشیبی وروسته بیا دو اړه په یوه دسترخوان سره ناست وی ځکه نو باید داسی تعبیرنه شی . [illegible] زموږ ټیم په لوی لاس دلوبو دبهیر داخلال له پاره کړی ؤ .

په پای کی محترم ډاکتر محمدناصر زیاته کړه چی موږ په خپلو شخصی مالی امکاناتو کابل ته راغلی ؤ او په کابل کی زموږ داستوگنی په وخت کی دالمپیک دملی کمیټی له خوا زموږ تود هرکلی وشو او زموږ لپاره یې ټول امکانات برابر کړی ؤ .

مرکه کوونکی :
سید یوسف شریفی ، امرخیل ،

چه کسی مؤظف حمایت از . . .

هرات بعنوان یك واحد اداری وزارت محترم عدلیه امارت اسلامی افغانستان وظایف خویشرا درسه بخش اصلی ، مدیریت وکلای مدافع ، عریضه نویسان و رهنمائی معاملات به منظور تقویت شبکه های اقتصادی و احیای ما بملك امارت اسلامی به پیش برده و در اکثر موارد بحیث هیئت مصلح ، قضایای رسمی را حل و فصل مینماید .

محترم رئیس قضایای امارتی در مورد جزئیات پروسه خدمتگذاری این ارگان در شهر هرات بهخبرنگار ماگفت:

دربخش مسلکی این اداره از یك طرف قضایای میان امارت و افراد و از جانب دیگر قضایای فی مابین خود موسسات امارتی مد نظر این اداره بوده ، درحل وفصل عادلانه وبموقع آن سعی بخرج میدهد و در صورتیکه یك قضیه در ریاست قضایای امارتی حل نگردد ، طبعاً به محکمه شرعی محول میگردد ، شایان ذکر است که در تمام مراحل این مباحث حقوقی ، ریاست قضایای امارتی حضور فعال دارد .

محترم ملا رحم الله «امین» افزود طی سال جاری بتعداد دوسیه های املاکی واصل گردیده که غرض ابراز نظر به هیات مسلکی اینریاست سپرده شده ولی تا کنون حل وفصل نگردیده است، محترم رئیس قضایای امارتی هرات پیرامون وظایف و وجایب متقابل اینریاست با مردم گفت: چون این اداره مدافع حقوق و امتیازات ارگانهای امارتی بوده و در تمامی بخش ها هدف آن بهبود شرایط کاری و حقوقی و رفاه واسایش هموطنان میباشد ، بناًاهالی شریف این ولایت در عکس العمل های مشابه وبرادرانه با اینریاست همکاری بی شایبه داشته و در صورتیکه بخش از حقوق بیت المال مورد تجاوز افراد فرصت طلب قرار گیــ [illegible] اسرع وقت این اداره را در جریان میگذارند .

در اخیر باید اضافه کنم که عواید حاصله از سه بخش متذکره ، طبق لوایح و اسناد معتبر امارت اسلامی تحویل بانك میگردد و مصارف اینریاست طبق بودجه و تخصیص واصله از مرکز ، تحت اجرا قرار داده میشود .

[illegible] محمد فریادی»

چې کـــشور دافغـــانانو معطر کا
دهریت مصرع می زلفی دخوبان کړی
دشعر او ادب نړۍ

یـــا لــه اټــکـه زانې راغلی یا په ټولی د جاپسته ژ لګیدمه

اټك د ادب په پلوشو کی

علی محمد منګل

اټک په روه او پښتونخوا کې دیوه ښارګوټی نوم دی چې د اندس سیند او کابل سیند یوځای کیدو له نقطی سره نږدې پروت دی. اټک د پیښور ختیځ لورته (٢٤) میله په لری فاصله موقعیت لری د اټک ښارګوټی په (١٥٨١ م) کال کې د اکبر پاچا له خوا جوړ شوی دی او ده یو غوره نظامی مرکز ژ او په را وروسته کې یې هم شهرت درلود.

د پښتو ژبې پلار (د شعر دستر آسمان ځلاند لمر او د میړانی اتل امیر کروړ جهان پهلوان او دشعر فردوسی او د توری نومیالی رستم) پښتون خان خوشحال خټک په فراق نامه کې د اټک ذکر داسې په مینه سره کړی، څه بنه وایی:

چې را یادکړم زه اټک قافیه کړم د خــــټک

د اټک یادونه د پښتو په ډېرو لورو او عالی شهکاریو کې شوی ده او مونږ به دلته د اټک څه پوره یادونه د حاجی زین العابدین شروانی له لیکنو څخه دلته ذکر کړو او ده په هغه اثر کې چې ریاض السیاحه یې نوم دی او په (١٢٣٧ هـ ق) کې تالیف دی داسی لیکلی دی: «ذکر اټک» قصبه بزرگ ومحل سترگ است قلعه محکم وحصار مستحکم از سنگ تراشیده دارد، و بانی آن اکبر شاه بن همایون بن بابر گورگانی بوده وچون وی آخر ملک کابلستان و ابتدای ملک هندوستان واقع، و در لغت ترک نهایت امر را اټک گویند، چنانکه دامن را بدین سبب اټک نموده و تسخیر وی به قوت مشکل. هوایش گرم، آبش معتدل و رود اټک بزرگست و از دوسمت برمیخیزد، و نصف آن از جانب مغرب و از کوهستان غوربند وبامیان برمیخیزد و از میان ولایت کنر وجلال آباد گذشته و از ملک دوابه وختک مجاور نموده و از کنار اټک میگذرد ونیمی دیگر رود اباسی (اباسین) نام دارد، از جبال شمال برخواسته و از کنار چچ هزاره گذشته بآب مذکور داخل شده و از اتک مرور نموده و به رود جیلم و راوی داخل گشته وقطع سندهـ کرده بدریای هند میریزد. آن اباسی (اباسین) در فصل تابستان بغایت حار است، به سبب سرعت جریان ... در غایت برودت و نهایت عذوبت است و در اتک نان قتلمه ممتاز میشود، بعد از دولت گورگانیه آن ولایت به حیطه تصرف ملوک افغانه افتاد ... » وګورئ (ریاض السیاحه لومړی جلد، ٧٣ مخ، ١٩٧٤ م کال چاپ).

د پښتو په شفاهی (ولسی) او تحریری (مدون او لیکنی) ادب کې د اټک یادونه ډیره په مینه راغلی او به ډیره پرځای شوی چې مونږ به یې یوه یوه نمونه دلته وړاندی کړو.

په ولسی ادب کې:

د خـــپل نیـــکه تــــوره را واخـــله
ظالم دښمن په اټک پورې کړه چې ځینه

زمـــا ننـــکی د اټـــک پــــل دی
چــې پرې تیریږی پښتانه کاږه کریچونه

شته دی په اټک کې د بابا صاحب مقام
نــــیازبیـــن د پـــاک اکـــبر دی

پرنګ د کلکتی نه را روان شو ماروماروه
ټول ملک یې پـــایمال کړو اټک نه ترکنګره

په مدون ادب کې:

(شهید شدویی) په خپله ادبی لمن کې د غزلو په ډیرو خوندورو پارکو کې د زیاتو فریادونو او شورو زوږ سره هغه سوی ځریکې را نغښتی دی. چې دا دنه شاعر الحاج اسدالله حنیفی د خیال او فکر محصول دی... په دغه ادبی لاله زار کې یې یوه ښه توته زما ترسترګو شوه چې په مجازی او استعاری معناوو ډیره ښه هنری جلو لری او د اټک یادنی هم ورسره د یوه مراد لپاره راغبرګ کړی دی، وګورئ چې ډې څه وایی:

راشه له ږدې ستر پیوستون د اوښـــکو ګوره
سورښامار یې تل ته که جیحون د اوښکو ګوره

اوښکې چې په نیمه شپه له سترګو مهاجرې شی
د ومره زړیبا راولی بدلــون د اوښـــکو ګوره

زړونه نالیدلی یو له بل سره تړلی شی
لری لری لری خوږ تړون د اوښکو ګوره

اوسی په کابل کې زړه به تللی ترې باګرام ته وی
ګوره ورنه وګوره پټ بون د اوښکو ګوره

لیکمه غزل د زړه په وینو خپل آشنا لره
لږ په موسکا وګوره مضمون د اوښکو ګوره

توی شویی د شهید (کابل) په ویر د حنیفی اوښکی
تللی تر اټک ته پیوستون د اوښـــکو ګوره

خلوت راز

حمید

نرفتی از دلــم گـــاهی که باشـــم در تمنایت
خوشا دل را که هردم باتو وګـردیـده شیـدایت
نرفتی یکدمی از دیده تا جـــویم حضـــورت را
نه از انظار پنهانی که جـــویم مـــن هـویـدایت
هزاران جلوه نقش جمالت هــر زبان، هـــرجــاه
نـــباشـــد دیـــده، بیـــنا که نبود در تماشایت
جهان وهرچه در اوهــــست، مـــشغولند در ذکرت
زبانی نیـــست درکـــامی کـــه نبود در سخنهایت
شدم بیگانه از خویش بـــا خیـــال گـــلشن رویت
به سنګ هجر می زیبد سری گرنـــیـست بــسودایت
جهان سرگشته، عشق تو و در جستجوت هردم
نمیدانم چه جائی هست، آنجائی کــه نیــست جایت
حمید در کنج خلوت خاطری شادی از آن دارد
کـــه نبـــود خـاطرش را محرمی بهتر ز سودایت

وطـــنه

فضل عمر «میرخیل» وردګ

ای هـــیـواده ته مـــی سرو ځان وتن یی
زما مینه زمـــا ژ ونـــد زمـــا بدن یی
سر ومال می درنه ځـارشـه زما کور یی
ماتـــه ګران یـــی له هرڅه زما میهن یی
ته مـــــی هره مـــشغولا او محبوبایی
وطـــنونو کـــی اوچـــت زما وطن یی
ته زمـــا د ژوند ډیـــوه زه دی پتنګ یم
ماته ښکلی او ښـــایسته ته له ختن یی
هری دښتی هر یو غر نــه دی لـــوګی شم
ته تاریخ ژوندی د پلار نیکه مسکن یی
ته زړه ځګر زمـــا او ســـترګی یی وطنه
ستا خدمت ته یم تـــیار زمـــا ګلشن یی
خبر که دړی وړی پروت اخر به جوړشی
ته می هرڅه ته زمـــا ښـــکلی چمن یی
که می مال وسر د ستا په مینه ولاړشی
پاک یی نشته د «مـــیرخیل» عزت کفن یی

نکته های نغز

* نیکی چیزی است که پیش از هر چیز مردم را خلع سلاح میکند.
* بهترین مردم کـــسی است که برای مردم سود مند تر باشد.
* رضـــائیت وجـــدان فـــقط بعـــد از انجـــام وظیفه حاصل میشود.
* یا درست حرف بزن یا عاقلانه سکوت کن.
* مشقت وسختی بهترین وسیله آزمایش و امتحان زنده گانی است.
* برای اجرای عدالت اگر دشنام وصدمه خوردید بخاطر خدا نر نجید، بخندید وشاد باشید.

تـــــبری دعـــا

علم ګل سحر

مـــنی د وخـــت لـــه ناکردو نه خو چا هیڅ ونه ویل
لمن دی کـــانـــونه خـــالی شوه خو ماهیڅ ونه ویل
د وینـــو ســـــور رنګ یې زموږه په لمر وشیندلی
مـــوږه لـــیدله خو مـــظلومی ربا هیـــڅ ونه ویل
د سره کمـــون له لاسه سری وینی جاری شوی دلته
دغـــه وحـــشت ته بشر پـــالی دنیا هیڅ ونه ویل
په حق زمـــا د شهـــید شـــویو ارمانونو کی خو
د غـــاټول لیـــــه کې هم تری دعا هیڅ ونه ویل
دنګـــو مــــانیو نه بی هـــیلی بی نوا راستون شو
سور اســـویلی یی له خولی ووت ګدا هیڅ ونه ویل
تــــه یـــــی پـــــه تمه د وعدو یی چې سبا به راځی
ســـحره ښکلو بخپل ژوند کې ریښتیا هیڅ ونه ویل

بی ګناه بندی

مرحوم الفت



پریږدئ! دا بې ګناه بندی پریږدئ!
مه ویرېږئ، د ده په ازادولو کی هیڅ خوف او خطر نشته.
فـــــســـــاد او شـــرارت له ده نه، نه پیداکیږی.
د ده بندی کول لویه ګناه ده.
دا هغــه یوسف دی چې د بې ګناهی په سبب په زندان کې لویدلی دی.
کـه دی له زندانه را ووزی ستـاسـې آینده سنجولی شی او ستاسې د بلې ورځې غم خوړلی شی.
پریږدئ! دا بې ګناه بندی پریږدئ!
که دی خلاص شو ستاسو انتظام به په ډېر ښه شان وکړی.
ستاسې وږی به ماړه کړی، ستاسې بربنډ به پټ کـــاندی، تاســـې د غـــه ښکلی موجود په تورو ځاګانو کې مه غورځوئ.
په زندانونو کې یې مه اچوئ.
په لیوانو او پړانګانو یې مه خوړئ.
پریږدئ! دا بې ګناه بندی پریږدئ!
دی به ستاسې د ګډو وډو او پریشانو خوبونو صحیح تعبیرونه وکړی.
ډیرې سختې مبهمې او مجملې غوټې به پرانیزی.
دی د ...
د طبیـــعت په رمـــزونو او اســـرارو پوهیږی.
د جوی او فلکی اوضاعو اقتضاءات ورمعلوم دی.
پریږدئ! دا بې ګناه بندی پریږدئ!
د ده په آزادی بـاندې علم او پوهه زیاتیږی.
وطن رڼا کیږی، رانده بینا کیږی.
دی له خپلو جفا کارو ورونو سره هم ښه سلوک کوی.
دی ډیر پیچومی او اړولی شی.
ډیرې کړې لارې سمولی شی، او ډیر مشکلات حل کولی شی.
مـــا خــــوب لیــــدلی چې دا بندی خلاصیږی او د سلطنت په کرسی کښیني.
ښه فکر وکړئ!
دا بندی څوک دی؟
پس نو ډیر فکره وایم!
فکر دی فکر!

په پښتو شعرکې مذهبي څرګونه

18

د ثبات لیکنه او څیړنه

د بنی ادم په تیره بیا د مومن مسلمان ډیر زورور او بد دښمن او لوی د ښی شیطان د ده «نفس امارة بالسوء» ده ځکه چې دا نفس یې د خپلو خواهشاتو او د تمایلاتو تر اغیزې لاندې د مستقیمې لارې څخه منحرف کوی او هغه ته دی تشویقوی چې ناروا وی ګناه ده او اخلاقی بدرنګی او زشتی وی.

خوشحال خټک د خپل شعر په یوه مقطع کې د «نفس امارې» چې په قران عظیم الشان کې یې ذکر راغلی دی د یوې کلې په توګه څه بنه ویلی دی:

څه به وایم د دې نفس له ازمایښته
چې آدم یې را ایستلی لــه بهـــشته

ښیخی طبیعی خبره ده چې د امارة نفس د متابعت د نتیجې ښه مثال به د پورتنی مثال غوندې بل و جود ونه لری.

خوشحال خټک په یو بل بیت کې هم د «نفس» د دښمنی په باب لیکی:

چې فتنې ترې پیدا کیږی وا ړه نفس دی
نفـــسانی بــا ران بــــه نــــه وی یی بلا
(١٥ مخ)

د یو ولی الله او روحانی شخصیت مولانا بلخی قول دی چې وایی «زه له عاقبت یعنی خاتمی نه داریږم» د دې خبری مطلب دادی مسلمان ته په کار دی چې همیشه د خدای دربار ته دا دعا هم وکړی چې عاقبت یې نیک وی. ځکه لکه چې د مخه ویل شول د قضا و قدر چاری د خدای په واک کې دی، او هیڅوک نه پوهیږی چې خاتمه یې څرنګه کیږی. خوشحال خټک چې په دې رمز ډیر ښه پوه ژ نو په خپل شعر کې انسان د غی باریکې او حساسی نقطی ته داسی ملتفت کوی:

که یې غازه د قیامت په ورځ ممتاز کـــا
و جنت ته یې روان په ډیـــر اعـــزاز کـــا
غاز ګذاروتـــــه یې هـــــی حکم وشـــی
چې فرښتې یې د دوزخ په اور ګـــــدار کا
تر عـــــامی نــــه لا بتـــر هغــــه عابد دی
چې په خپل طاعت به عجب یا به ناز کا
داځای کار د هیڅ طاعت نه دی خوشاله!
ګوره څوک به په خپل فضل سرفراز کا
(پورتنی اثر ٢٤ مخ)

د قران پاک د اسمانی حکم د حکمت له مخی د انسانانو د رنګونو، نژادونو، ژبو او د نورو مشخصاتو بیلګې یوازې د هغوی د «لتعارفو» د اهمیت او منظور له مخې دی نه په یوبل د برتری او نورو د نیاوی مدارجو په خاطر، ځکه د انسانانو په تولنو کې د هغوی افضلیت او ارجحیت یوازې او یوازې د خدای پاک په نزد د تقویٰ او معنوی غوره والی په اساس دی، خوشحال خان خټک په لاندنی نصیحتی شعر کې د تقویٰ او پرهیزګاری عنصرونه داسی معرفی کړی دی:

په دا ساه نښتــه ویـــا
هر دم ته وایـــه الـــلـه

هر نفس یو غنیمت دی
بهره دار اوسه دســــاه

د سالک په ویل کار کړه
که د ځان نه یې بد خواه

دلته د سالک نه مراد د خدای دلاری شخص دی.

چې له خلکه نه زړه پری کړه
زړه پیوند کـــړه له الله

که هوا دی کړله ترکــــه
نور قبـــول یې د درګــــاه

بادشاهی به د هرتن کړې
که د خپل تن شې بادشاه

«موتوا قبل ان تموتوا»
په دا راز شـــه اشـــباه

په جوار یې د قربت کې
د کم شناختـــونښته راه

د بیدارو دی نصیب وی
ښه دولـــت د ســـحرګــاه

څه امید دور ودراز کړې
پـــه دالې عـــمر کـــوتـــاه

تل توبه کوه خوشحاله
چې دې محوه شی ګناه

پاتی لری

اعـــلانـــات

آمریت اکمـــال البـــسه ریاست عمومی لوژستیك وزارت امور داخله به تعداد بیست و هفت قلم قرطاسیه غیر مطبوع مورد ضرورت سال روان خویشرا بطور قرارداد اکمال میدارد.

اشخاص و موسساتیکه خواهش رسانیدن آنرا داشته باشند درخواست های خـویشـرا به آمریت خـریداری وزارت امور داخله بسپارند و خـود شـــان از تاریخ ٦-٥-١٤٢٢ تا ده روز مـراجـعـه نمایند شـرطنامـه را مـلاحظه کـرده مـیتـوانند دوفیصد تضمین اخذ میگردد.

***

محمد صدیق فرزند محمد صادق یك باب کانتین وبایسکل نګهبانی شفاخانه عاجل ابن سینا را ماهانه به مبلغ هفتصدوچهل و پنجهزار افغانی برای مدت یکسال قرارمی نماید.

مـزایده کننده گـان درخـواست های خویشرا بمدیریت خدمات وزارت صحت عامه بسپارند وخود شان از تـاریـخ ٦-٥-١٤٢٢ تـا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را مـلاحظه کـرده مـیتـوانند ... تضمین اخذ میگردد.

***

الجنیر امان الله فرزند محمد اسمعیل یك باب گاراژ نمبر ٣ واقع تهیه مسکن ملکیت ریاست تدویر و مراقبت مکروریانها را ماهانه مبلغ یکصدوپنجاه هزار افغانی برای مدت دوسال بکرایه میگیرد.

مـزایده کننده گـان درخـواست های خویشرا بمدیریت اسناد و ارتباط ریاست تدویرو مـراقبت مکروریانهـا واقـع بـلاك ٢٣ مـکـروریـان اول بســپـارند وخـود شــان از تاریخ ٦-٥-١٤٢٢ تا ده روز مـراجـعـه نمایند شـرطنامـه را مـلاحظه کـرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

عزیزالرحمٰن تاجر رسانیدن سی وهفت قلم پرزه جات جدید موتر کامازروسی را سه فیصد کمتر از نرخ بازار به مـبلغ یکصـدوچهل وچهـار مليـون وهشتصـد وبیـست ویکهزار افـغـانی با وزارت امـ... وقبایل قرارداد مینماید.

مناقـد... کننـد... درخـواست های خویشـ... مدیریت خدمات وزارت امور سرحدات وقبایل بسپارند وخود شـــان از تاریخ ٦-٥-١٤٢٢ تا ده روز مـراجـعـه نمایند شـرطنامـه را ملاحظه کـرده مـیتـوانند تضمین اخذ میگردد.

***

ستانه گل فرزند شایسته میر مغازه نمبر ٤ ملکیت بانك انکشاف زراعتی را ماهانه مبلغ یك ملیون وهشتصـد وبیـست هزار افغانی برای مدت یك سال به کرایه میگیرد.

مزایده کنـده گان درخواست های خـویشـرا بمدیریت خـدمـات بانك انکشـاف زراعتی واقع منزل شـشم تعمیر جهاردهـ منزله بسپارند وخود شـــان از تاریخ ٨-٥-١٤٢٢ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را مـلاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

ریاست پست وزارت مخـابرات جـهت طرح و ترتیب دیزاین تکت های پستی نشریه سال ١٤٢٢ به یك نفـر رسـام و خطاط ورز یده ضرورت دارد عـلاقـمندان درخـواسـت های خویشـرا بریاست پست وزارت مخابرات بسپارند.

***

مـوازی چهـار جـریب زمـین زراعتی واقع خواجه بغرا به اجاره داده میشود.

شایقین درخواست های خویشرا بریاست ناحیه پانزدهم شاروالی کابل بســپـارند وخـود شــان از تاریخ ٨-٥-١٤٢٢ تا ده روز مـراجـعـه نمایند شـرطنامـه را مـلاحظه کـرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

وزارت اطلاعات وکلتور تعداد پنجصـدو هشـتـاد وشش قلم اموال واجناس داغمه جات مازاد ضرورت خویشرا لیلام مینماید.

اشخاص و موسـسـاتیکه خواهش خریداری آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات وزارت اطلاعـات وکلتـور بـسپـارند وخـود شـان از تاریخ ٨-٥-١٤٢٢ تا ده روز مراجعه نمایند.لست مشخصـات را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

وزارت مـخـابرات ... شستشوی البسه باب طلاق مرکز تربیوی و مربوطات وزارت را در سال ١٤٢٢ به دوبی ضرورت دارد.

اشخاص و موسساتیکه خواهش قرارداد آنرا داشته باشند درخواسته های خویشرا بمدیریت تهیه خدمات وزارت مخابرات بسپارند وخود شان از تاریخ ٨-٥-١٤٢٢ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

راز محمـد فرزند حاجی عبدالاحد ... یك تانك تیل اماراتی دوراهی پغمان را ماهانه مبلغ سیزده ملیون افغانی به کرایه میگیرد.

... درخواست های ... عمومی مواد ... واقع سالنگ وات بسپارند وخود شان از تاریخ ٨-٥-١٤٢٢ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

انستیتوت طب کابل همه ساله ۳۰۰ طبیب را به جامعه تقدیم مینماید

پوهنځی طب کابل از بدو تأسیس از سال (۱۳۱۱هـ ش) تا کنون همه ساله فارغان خویشرا بصفت طبیب به جامعه تقدیم نموده است تنها درسال ۱۳۷۱ به نسبت جنگ های شدید موقتاً پروسه درس در این انستیتوت مختل گردید . اما خوشبختانه بعد از استقرار امارت اسلامی همه ساله بیشتر از ۳۰۰ نفر طبیب در بخش های سه گانه (معالجوی ، اطفال ، ستوماتولوژی) به جامعه تقدیم نموده است . این مطلب را محترم ملا محب الله «صمیم» رئیس عمومی انستیتوت طب کابل به خبرنگار ما گفته افزودند : فعلاً در انستیتوت طب کابل به تعداد ۲٦۰۰ تن محصل در پوهنځی های سه گانه مشغول تحصیل می باشند و توسط ۱۱۰ تن استادان مجرب تدریس میشوند . میتود و شیوه تدریس در این انستیتوت مطابق کریکولم های بین المللی یونیسکو بوده و بالای محصلین این پوهنځی بصورت جدی تطبیق میگردد.

محترم صمیم در رابطه به قرار داد علمی این انستیتوت با پوهنتون لومالندا امریکا چنین فرمودند :

قرار داد توامیت و همکاری پوهنتون لومالندا با انستیتوت طب کابل دوسال قبل عقد گردید و همکاری آنها در بخش های تدریس توسط استادان امریکائی ، تکمیل مواد لابراتوار ، کتب ، کمپیوتر و وسایل جدید طبابت میباشد به اساس این قرار داد یك تن استاد امریکائی بنام پروفیسر(هیدلی) مضمون پتالوژی را در انستیتوت طب کابل تدریس می کند و در آینده نزدیك استادن مضامین دیگر نیز به کابل خواهند آمد .

ایشان در مقابل این پرسش که آیا محصلین خواهند توانست خود رادقعتاً با تدریس استادان خارجی عیار سازند ، چنین فرمودند : قبل از آمدن استادان مضامین مسلکی دونفر استادان این پوهنتون جهت تدریس مضمون انگلیسی به کابل میآید که به محصلین لسان انگلیسی را تدریس نموده تا با لسان انگلیسی بلدیت پیدا کنند .

محترم صمیم صاحب در مورد کتابخانه که جدیداً افتتاح گردیده چنین فرمودند :

کتابخانه انستیتوت طب کابل که در ایام جنگهای بی مفهوم به ویرانه مبدل گردیده بود از طرف انجنیران پوهنتون لومالندا به سیستم عصری اعمار و ترمیم گردیده و با نصب چند پایه کمپیوتر و کتب جدید طبی فعلاً مورد استفاده محصلین قرار دارد و قابل یاد آوری است که کشور پاکستان نیز دو پایه کمپیوترو یك تعداد زیادی کتب به کتابخانه کمك نموده است .

ایشان در اخیر چنین فرمودند :

تعمیر انستیتوت طب کابل در اثر جنگ های قبلی خسارات هنگفت را متحمل گردیده بود که در اثر توجه امارت اسلامی افغانستان کار ترمیم اساسی آن تقریباً به پایه اکمال رسیده و بانك انکشاف اسلامی نیز جهت خریداری وسایل و تجهیزات برای این انستیتوت وعده اعطای یکصدو هفتاد هزار دالر را نموده است که با خریداری این وسایل مشکلات ما تا اندازه ئی رفع خواهد گردید .

«ارسلان»

در کشمیر تحت اشغال ۳۰ عسکر هندی کشته شدند

سرینگر :

در یک درگیری مجاهدین با نظامیان هندی ۳۰ تن از عساکر اشغالگر هند به قتل رسیدند .

این درگیری زمانی آغاز گردید که عساکر اشغالگر یک جنگل را در محاصره قرار داده که در آن مجاهدین کشمیری جابجاشده بودند و از طرف مجاهدین حمله صورت گرفت .

در این حمله هشت تن مجاهد کشمیری نیز به شهادت رسیده اند .

عکس : نمایی از یک مسجدشریف در کشمیر که توسط عساکر اشغالگر هندی چندین بار مورد حمله وحشیانه قرار گرفته است.

بخاطر اوضاع ناآرام مقدونیه

امریکا دپیلوماتهای خویش را از آن کشورخارج میکند

منابع خبری بین المللی - شریعت:

مقدونیه بازهم میدان جنگ نیروهای حکومتی والبانیایی نژادهای استقلال طلب گردیدبه اساس گزارشات رسیده البانیایی نژادها پربروز مواضع نیروهای حکومتی را در نزدیکی شهر تیتو وا هدف حمله قرار دادند طبق یك خبر دیگرحکومت امریکا از کارمندان سفارت خویش درمقدونیه خواسته تا همراه اعضای فامیل شان مقدونیه راترك گویند.

این درحالیست که امریکا تعدادی از قوای بحری خویش را دراطراف سفارت خویش در اسکوپیه پایتخت مقدونیه مستقر کرده اند.

چندی قبل مظاهره کننده گان خشمگین سفارت امریکا وانگلستان را بخاطر نقش فعال شان در تشددهای مقدونیه مورد حمله قرار دادند.

عنقریب سلسله رفت وبرگشت ...

مناطق مشهد ، تهران ، قصرشرین ، بغداد ، سامره ، نجف الاشرف و کربلا معلامیگرده طرح و تنظیم نموده است که اولین دور این سفر مدت پانزده روز را دربر خواهد داشت.

محترم حمید قادری متصدی شرکت قادری پیرامون چگونگی شرایط وتسهیلات این کاروان اینگونه خوشه چین یادآورشد :

تنظیم امور سفر کلیه مسافرین این کاروان اعم از اخذوتهیه ویزه ، انتقال مسافرین توسط عصری ترین وسایط ترانسپورتی زمینی از کابل الی بغداد واز آنجابرگشت به کابل ، سرویس غذا ، خدمات هوتل ، بیمه وخدمات طبی طی مدت سفر بدوش شرکت قادری بوده ،هکذا هر مسافر میتواند باخود معادل ۲۰ کیلو گرام وزن را طور مجانی دررفت و برگشت انتقال بدهد .

وی یگانه هدف حرکت این کاروان را شکستاندن زنجیرتعزیرات ،خارج ساختن افغانها از دایره منزوی شده جامعه بین المللی ودست یابی به تجارت آزاد درشرایط کنونی خواند .

شایان ذکر است که این کاروان بدنبال خود سلسله داشته ودر نظراست تا در ادوار بعدی نقش و شرکت افغانها درین کاروان به تناسب تخفیف حرکت قابل ملاحظه باشد زعم گفتنی است که انتقال مسافرین این کاروان از کابل الی سرحد اسلام قلعه درهرات توسط وسایط موتری از نوع کاستر واز آنطرف سرحد الی بغداد و دوباره برگشت بوسیله عصری ترین موترهای ایرکندیشن دار دوسوله مربوط شرکت قادری تنظیم یافته است.

سلسله رفت و برگشت کاروان های زمینی از افغانستان به دول اسلامی در منطقه اولاً بهترین زمینه تجارت و بازار یابی امتعه افغانی را در بازار ها کشور های منطقه بوجود آورده و ثانیاً افغانها میتوانند منظر به گرایشات مذهبی خویش از زیارتگاه ها واماکن مقدسه اسلامی در ایران ، عراق به ساده گی دیدن نمایند. متصدی شرکت قادری درحالیکه پس نظر این کاروان را درشرایط تعزیرات برای افغانها خیلی نافع وتعین کننده خواند گفت درحقیقت امر حرکت این کاروان جانب بغداد زمینه ساز خوب سفرزمینی حجاج افغانی درسال آینده از طریق این شرکت می باشد . موصوف این نکته را صراحت داد که درآینده های نزدیك شرکت قادری مصمم است تا به کمك شرکت های ترانسپورتی پاکستان زمینه انتقال افغانها راازراه زمین به کشورهای ترکمنستان ، تاجکستان ، ازبکستان وشهرهای کراچی ، لاهور و پنجاب آنکشور نیزعندالموقع مساعد نماید . مهربان

تصبح ضروری

درشماره ٤۲۳ روزچهارشنبه مورخ ٤ جمادی الاول درگزارش پولیس اطفائیه درپانزده روز هشت واقعه حریق را اطفاء نموده است درصفحه دوم ستون پنجم هشت عراده وسایط به پانزده عراده وتعداد پنج نفر شهید به یك نفر شهیدو چهار تن زخمی تصحیح وخوانده شود

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Edit... Ghulam M. Farooq

دجوزجان دتیلو ...

دتیلو لومړی دویم او دریم لمبر څاګانی له موجودوتخنیکی امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره په اساسی ډول بیا ترمیم او دګټې اخیستنې وړ ګرځیدلی دی. دشمال دتیلو دپلټنې دپروژې رئیس محترم ملا داوٌد اخند وایی دزمردساد سیمی دتیلو څاګانی دشبرغان ښار دجنوب لویدیځ په ۷۵ کیلومتری واټن کی موقعیت لری چی زیرمی یی لس نیم ملیونه ټنه تیل تثبیت شویدی او په ورځ کی کیدای شی په عادی ډول له دغی ساحی څخه دوه سوه ټنه تیل استخراج شی .

دی وایی په دی کان کی د دریو تیل لرونکو څاګانو په اساسی ترمیم سره له یوی خوا داومو تیلو دضایعاتو مخه نیول کیږی او له بله پلوه کیدای شی په لومړی پړاوکی له دغو څاګانو څخه دتیلو دراایستلو او پلورنی له پلوه دوه سوه ۵۷ ملیونه ډالره ترلاسه کړو .دزمردساکان دتیلو دشته والی له پلوه دشمال دتیلو دویم کان بلل کیږی . دهغه رپوټ له مخی چی دملګروملتو دسازمان لخوا په ۱۹۷۵ میلادی کال کی څیړنه شویدی په افغانستان کی یوزرو څلور سوه کانونه شته

درهرات با مهاجرین ...

هفتادوپنج تن برنج سی وهشت تن روغن و سی وهشت تن لوبیا بوده که ارزش مجموعی آن به پنج ملیارد ویکصدو یازده ملیون وپنجصدوشصت هزار افغانی بالغ میگردد، این مساعدت ها از سوی نماینده گی جمعیت افغانی سره میاشت ولایت هرات به همکاری موسسه الندوة العالمیة للشباب الا سلامیه برای ٦۵۸٦ فامیل مهاجر مستقردرکمپ های روضه باغ ، رواشان ، مسلخ ، شیدایی و پای منار او ل ودوم ولایت هرات توزیع گردیده است

دوه تنه غله ...

پیسی او دکور مالونه او اثاثیه لوټ کړی وه ونیول او دقانون منګولوته یی وسپارل . له دغو غلو څخه غلاشوی مالونه هم ترلاسه شویدی پیښه ترتحقیق اوڅیړنې لاندی ده .

که ګیر شوي ...

۳۹ کلن معمار دی او دری اولادونه لری چاروا کو په وینا ده دامنلی چی له هغو ۱۹ ښځونه یی ۱٦ کسه ښځی ده وژلی چی مړی یی په تیر یوه کال کی موندل شوی ؤ . د رپوټونو له مخی دغه ښځی د بدلمنی یا نیشه کوونکو په توګه تورنی شوی وی . د ایران له یوی دولتی ورځپاڼي سره په مرکه کي تورن کس غبرګه کړه چي [illegible] ولسوالی پاکه کړی [illegible] چیری نه وای نیول شوی نو ده به یو نیم سل ښځی وژلی وای .

دارزګان په ...

دولس بوری دال نخود او دوه زره بوسلو شل قطي غوړي په کي دي دارزګان ولایت دافغانی سری میاشتی دعالی ټولنی دنماینده ګی لخوا ددغه ولایت په اتو سوو وچکالی ځپلو کورنیو باندی ویشل شوی دیو بل خبر له مخی په بهر کی داوسیدونکوافغانانو دمرستی څه دپاسه یو ولس زره لکه افغانی دمحترم قاری محمد نقیب دلوګر ولایت دشهیدانو او مهاجرینو دچارو ریاست په همکاری ددغه ولایت دشهیدانو په کورنیو او یتیمانو باندی ویشل شویدی.

دریاست الوزراء اداري ...

مطبوعاتی دفتر دباختر اطلاعاتی آژانس ته خبر ورکړیه دی کتنه کی لومړی دچارو داداری دلوی ریاست مرستیال محترم مولوی عبدالسلام حقانی چی څه موده مخکی دیوه هیا ت په مشری دجنوب لویدیځ زون اړوندو ولایتو نوته تللی ؤ په جنوب لویدیځ زون کی ددغه هیات داجراتو او فعالیتونو رپوت وړاندی کړوروسته دریاست الوزراء اداری مرستیال محترم ملا محمد حسن اخندددغه هیات دکړو وړو او فعالیتونورپوټ مثبت وباله .

دکابل برېښنا ریاست ...

مولوی محمد خان حقانی دباختر اطلاعاتی آژانس خبریال ته وویل :

په کابل ښار او اړوندو سیمو کی دبرېښنا انرژی ویش په منظم ډول کنترول او دمؤظف کمیسیون لخوا دټولو ضایعاتو او سرغړونو مخه نیول شوی او دتیرکال پهیر کی دبرېښنا دمحصول له درکه یو سلو اته پنځوس ملیارد ه شپږسوه څلور څلویښت ملیونه افغانی عواید لاس ته راغلی دی.

محترم حقانی وایی دسروبی اونغلو دبرېښنا دتولید فابریکی په نورمال ډول فعالیت کوی چی په یوه ساعت کی یو سلو دوه ویشت میګاواټه برېښنا تولید او دوو لینو نو له لاری دنوی زرو مشترکینو لپاره کابل ته انتقال او ویشی دماهیپر دبرېښنا دتولید فابریکه داوبو دنشتوالی له امله فعالیت نه لری . دی وایی دکابل په ښار کی دتیرو کلونو دبرېښنا دمحصول باقیداری دتصفیی په حال کی دی او په دی برخه کی دکار بهیر په بیړه روان دی .

تیم فوتبال اتحاد ...

خبرنگار ما از جریان مسابقه چنین گذارش میدهد مسابقه ساعت ٤:۱۵ شروع شد که تایم اول این مسابقه بدون کدام نتیجه خاتمه یافت در تایم دوم بازی کسن نمبر ۸ تیم اتحاد بنام شفیق الله توانست توپ را وارد گول حریف کند و مسابقه را بنفع تیم خود بسازد . به این اساس تیم اتحاد که تاکنون دارای امتیاز بیشتر است ممکن دراین مسابقات مقام اول را کمائی نماید

ارسلان

شورا مشورتی ...

پاك کاری کوچه هاوانتقال کثافات به کثافات دانی ها به مردم محل تبلیغ نماید وبه کمك مردم وهمکاری ریاست تنظیف و سرسبزی کوچه ها و جویچه های ساحه را پاك کاری و کثافات آنرا انتقال دهند. عالی

پرویز مشرف ...

ددغه سفر هدف دداوړوهیوادونو ترمنځ دسولی دخبرو دوام دی چی څواوونی مخکی هندکی دداوړوهیوادونو دمشرانو په غونډی سره پیل شوی په نوی ډیلی کی دپاکستان عالی کمشنر دهندصدراعظم ته د جنرال پرویز مشرف رسمی بلنلیک هندی مقاماتو ته سپارلی دی. اټل بیهاری واجپای پخوا دیکستان دمشرپلنه منلی ده چی ددغه سفر وخت به وروسته اعلام شی.

تـوجـه

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتی بگذارید .